مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فرید باراني ۲۰۲۲/۰۲/۲۶

د دې سفر نوستالژي زموږ په مرګ ختمېږي

کله د پاڼې په څېر
د ژوند له ونې ځینې ورژېږي
او کله، کله دې د روح په پوست کې
د کائیناتو ستوماني ختمه شي،
ته ځان ته ګورې او د خپلو سترو شوو پښو
لاندې دانه، دانه شې،
په ګڼه ګوڼه کې تنها غوندې شې
او د «الفت» د تفاوت او بې رخی جبر دې
د سګرېټ دود شي ، له سینې نه ووځي
یواځیتوب دې وخوري
او ته په خپلو خاطراتو کې یو څه ور زیات کړې:
د دې سفر نوستالژي زموږ په مرګ ختمېږي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ